Published on *Institute for War and Peace Reporting* ([https://iwpr.net](https://iwpr.net))



# د تيري اوونی مضامين

**Author:** Danish Karokhel
په ارتداد تورن ورځپاڼه ليکونکی له خپلې ليکنې نه پښيمانه نه دی

ورځپاڼه ليکونکی په يوې غير اسلامي ليکنې پښيماني نه ښيي، چې ښايي د ژوند په بيه يې پای ته ورسيږي.

د يوې افغاني خپرونې مسوول مدير، مير حسين مهدوي، له هغه وروسته چې په کفر ويلو تورن شو، له کابل بهر په يو پټ ځای کې له خپلو مخالفو نظرياتو څخه د دفاع په خاطر د يو کتاب په ليکلو بوخت دی.

نوموړي د آی أبليو پي آر له خبريال سره په يوې ځانګړې مرکې کې وويل، چې د خپل اختلافي مضمون په چاپولو، چې د هغه د بندي کيدو سبب شوه، "يوه شيبه پښيماني" هم نه ښيي. نوموړی د خپل کتاب د ليکلو په هکله وايي: "تولي دولتي او غير دولتي خبري رسنۍ زما په ضد ليکني کوي، زه د يو انسان په توګه حق لرم، له ځانه دفاع وکړم او خلك له رشتياوو خبر کړم."

مهدوي د آفتاب د خپروني مسوول مدير اود هغه مرستيال علي رضا پيام د تير جون په مياشت کي د خپلې يوې ليکني له امله په کفر ويلو تورن او د اتو ورځو لپاره په بند کې اچول شوي وو. په دې مضمون کې يې پخواني جکړه ماران غندلي وو، چي اوس د حکومت په لوړو څوکيو کې کار کوي.

ولسمشر حامد کرزي، د هيواد د منځمهالي اداري مشر، د نړيوالو موسسو له خوا ترفشار وروسته د هغوی د خوشې کيدو لارشوونه وکړه، خو قضا لاتر اوسه د هغوی د تعقيب او څارني هڅه کوي.

هغوی دواړه له هغې وروسته چې دا شخړه رامنځته شوه، کابل ته نه دي راستانه شوي. د نوموړو په غياب کې ستري محکمي د هغوی په هکله يوه فتوا صادره کړه او په کې يې د هغوی د اعدام غوشتنه وکړه.

مهدوي له آي أبليو پي آر څخه د هغوی د اوسيدو د ځای د نه شوولو غوشتنه کړې، خو ويل يې چې پيام او د هغه نور ملګري، چې د ورځپاڼې له بنديدو وروسته تشتيدلي، روغ رمت او خوندي دي. نوموړی 31 کلن ورځپانه ليکونی د خپلي کورنی له غړيو سره په غير مستقيمه توګه اړيکي ساتي.

مسوول مدير څرګنده کړه، هغه غواړي چي يو کتاب وليکي او په هغه کې د پخوانيو جکړه مارانو د ظلم او ناروا په هکله خلکو ته زيات معلومات ورکړي، چي د هغه د ليکنې"فاشيزم مقدس" ترسرليك لاندې پرې ډيري خبري شوي دي.

هغه ډاډ خرکند کړو، چي کتاب به يي د کال تر پايه چاپ شي، خو شك يې درلود چې که چيرته په افغانستان کې د چاپ موقع تر لاسه کړي.

مسوول مدير پنځه کاله په ايران کې په مذهبي مدرسو کې د اسلام د مختلفو فرقو او مذهبونو په هکله زده کړې، کړې دي.

د هغه تر ټوله ستره ادعا داده چې اسلام د افغانستان دننه او بهر په نور اسلامي نړی کې د هغه چا له خوا په ناسمه توګه کارول کيږي، چې غواړي په قدرت کې پاتې شي. نوموړی په دې باور دی، چې د هغه هيوادوال دې ته ليوال دي، چې آن د خپلو مشرانو په هکله د کوتنيونو اوريدو ته غوږ کيدي.

مهدوي د خپلې قضيې په هکله هغه خلك غندي، چې د خپلو عملونو د رواکنلو لپاره اسلام د يوځال په توکه کاروي او په هغو ليکوالانو بريدونه کوي، چې په خپلو ليکنو کي د هغوی دا اعمال او کړنې غير اسلامي کني، خو وايې، چې هغه د خپلې ليکنې په هکله د يو جدي د غبرکون هيله نه لرله، ځکه چې هغه پخوا هم داسي مخالف مضامين خپاره کړي وو.

دا مضمامین د شمال تلوالې په کارنامو باندې د تبصرو په کآون، د هیواد په رسمي نوم پورې د"اسلامي" کلمې له ورزیاتولو څخه عبارت دي. دا او داسې نوري لیکنې د مهدوي له خوا د مارچ او اپریل په میاشتو کې خپرې شوې دي او د نامعلومو کسانو له خوا ورته د مرګ ګواښونه شوي وو.

مهدوي ومنله چې دا یوه خطرناکه لاره ده، خو ټینګار یې کاوه چې هغه نه ډارېږي. هغه آّن وایي، چې د محکمې پریکړه مني، خو په دې شرط چې د سیاستوالو او شرعي قانون ترکنترول لاندې نه وي.

هغه د خپلو نورو هغو انډیوالانو په هکله اندیشمن دی، چې په کابل کې د چارواکو په هکله د ناخوشهٔ آّوازونه پورته کوي. هغه وایي: "زه د هغه چا د سرنوشت په هکله اندیشمن یم، چې که چیرته د ورته (مشابه) بې عدالتیو په باب څه ووایي، نو له ورته ستونزو سره به مخامخ شي.

د مطبوعاتو نوی قانون، چې د ولسمشر کرزي او د هغه د کابینې په میز باندې پروت دی، د خبریالانو قضیې یو ځانګړي کمیسون ته وړاندې کوي، چې د اطلاعاتو او کلتور وزیر به یې مشري کوي. دا کمیسون به د څارنوالی یا محکمې په ځای د جزا د ورکولو پریکړه کوي. دا قانون یو منځمهاله اقدام دی او ددې لپاره رامنځته شوی، چې د جزا د قانون په وړاندې د ژورنالستانو ساتنه وکړي، چې په زیاترو مادو کې هغوی په نښه کړای شوي دي.

خو داسې نه ښکاري، چې دا کار به له مهدوي سره مرسته وکړای شي، چې په هکله یې لا له خوا پریکړه صادره شوې ده. مسوول مدیر اوس د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره په دې هڅه په خبرو بوخت دی، چې که وکړای شي، د یوې خوندي لارې په پیدا کولو بیرته کابل ته راستون او کار له سره پیل کړي.

**Location:** [Iraqi Kurdistan](#)
[Iran](#)
[افغانستان](#)

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%AF-%D8%AA%D9%8A%D8%B1%D9%8A-%D8%A7%D9%88%D9%88%D9%86%D9%89-%D9%85%D8%B6%D8%A7%D9%85%D9%8A%D9%86